مطبوعاتي اعلاميه

## پانگوال نظام بشريت گوابښي

## د سيکولرېزم ايډيالوژي افشا شوه، اسلام يې رښتينی بديل دی

موږ په داسې وخت کې ژوند کوو چې دروغ، ناسم معلومات او بې اساسه تورونه، د ولسمشرانو او لومړي وزيرانو لپاره ډېر عادي دي او هره ورځ  د مهمو رسنيو له لوري په بې شرمانه توګه خپرېږي.

د پېړۍ له پيل راهيسې د پانگوال نظام مشران او بانگدارن د جعلي استخباراتو او ناسمو مالي معاملاتو له امله افشا شوي دي او د ناقانونه جگړو او نړيوال مالي بحران لامل گرځېدلي دي. په وروستيو کې لندن د پيسو مينځلو د اصلي مرکز په توگه په داسې حال کې ظهور وکړ، چې هر ځای له نظام څخه اغيزمن دی او د شتمنو کسانو ملاتړ کوي.

د کرونا ويرس پر وړاندې فاسد غبرگون له دوکې ډک دی. عادي وگړي غواړي پوه شي چې نامسووله او هغه مشران چې د ځان په خدمت لگيا دي، دوی ته کومه بدبختي رامنځته کوي.  دوی له لسيزو راهيسي له قدرت څخه ناوړه گټې اخيستنې ته دوام  ورکړئ.

د پانگوال نظام ملاتړي په لاندې اصولو باور نه کوي: دوی بايد د نورو لړ امتياز لرونکو خلکو له لوري وڅارل شي. جانسن گوابښ وکړ چې لاسليک شوي نړيوال تړونونه به مات کړي او همدارنگه ټرامپ گوابښ وکړ چې که د نوامبر ټاکنې ونه گټي نو د واک سوله ييز لېږد ته به زړه ښه نه کړي. د شتمنو او بېوزلو نظام ټوله نړۍ د ويجاړېدو پر لور يوه ناوړه سفر ته اړ کوي، چې يوه ډله يې پر بله اغيزه کوي او شتمن کسان به تر دې ډېره شتمني تر لاسه کړي.

دا هېڅ د حيرانتيا خبره نه ده چې خلک ډېر وېشل شوي او له بهرنيانو او مهاجرينو سره په ښکاره دښمني کوي. پانگوال نظام په هر ځای کې پاتې راغلی، د دوی پاپوليست مشران په ډېرې ليوالتيا سره د وخت پېرودلو لپاره هڅه کوي، د قربانۍ د گډوري په لټه کې دي، په داسې حال کې چې دا نامعقول دی. په حقيقت کې په فرانسه کې ميکرون اعلان کوي، چې هغه د اسلام له خوا گواښل کېږي او دا يوه ستونزه گڼي.

د دولت او رسنیو  ګډون خلک دومره ګمراه کړي، لکه د برېټانیا محافظه کار ګوند چې ډېرى غړي په درواغو پر دې باور کوي؛ په هغه ځاى کې چې مسلمانان اوسیږي غیر مسلمانان نه شي ورتللاى. په خواشینۍ سره ډېرو خلکو ادعا کړې، چې دوى د اسلام له خوا ګواښل کېږي.

د پانګوال نظام تسلط پاى ته رسیږي. الله سبحانه وتعالى یې ناکامي په ډاګه کړه. ناځاپه د بدیل نظام په اړه ډېرې خبرې شته؛ ان د انګلستان حکومت هڅه کوي، چې په ښوونځیو کې پر هغو ادبیاتو بندیزونه ولګوي، چې پر پانګوال نظام نیوکه کوي.

اوس د مسلمانانو لپاره فرصت دى، چې نړۍ ته اسلام وړاندې کړي، تر څو د ټولو خلکو لپاره خپل عادلانه نظام روښانه کړي او هغوى ته مفصلې اقتصادي حلارې، سوله او امنیت چې یوازې د خالق له لوري نازل شوي او هغه نظام رامنځ ته کړي، چې  زړه او ذهن پرې قناعت کولاى شي.

موږ تاسو ته بلنه درکوو چې د حزب التحریر۔ انګلستان په انلاین نړیوال کنفرانس (د اسلامي نړۍ نظم راوګرځوئ) کې ګډون وکړئ.

**ویناوال به لاندې موضوعات تر پوښښ لاندې راولي:**

- له ناورغۍ څخه تر BLM پورې: بشریت په ډېر شدت سره د یو بدیل په لټه کې دى
- نوى اقتصاد ٪۱ خدمت هم نه کوي
- د خلافت نظام؛ د خلکو پاملرنه
- پر ځمکه د اسلامي رهبرۍ تاسیسول او زموږ مسوولیت

**وخت: د ۲۰۲۰م، د اکتوبر ۳۱مه، د شنبې ورځ، د ګرنویچ په وخت د ماسپښین ۲:۰۰ بجې**

دلته نوملیکنه وکړئ: https://bit.ly/HTBConferences2020

**یحی نسبت**

**د حزب التحریر۔ انګلستان مطبوعاتي استازى**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د صفر ۱۷مه**

**۲۰۲۰م، د اکتوبر۴مه**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۱/۰۳**

**جمله**:

۱ـ د انګلستان حکومت هڅه کوي په ښوونځیو کې پر هغو ادبیاتو بندیزونه ولګوي، چې پر پانګوال نظام نیوکه کوي.